بسم الله الرحمن الرحیم

## خانداني او شخصیتي سیاست هیڅکله رښتینی بدلون نه راولي

**خبر:**

د ۲۰۲۳ م کال د مې په ۱۸مه، د تحریک انصاف (PTI) ګوند مشر، عمران خان پر پوځي تاسیساتو برید وغانده. هغه وویل چې، واکمن ګوند (PDM) غوښتل د اپوزېسیون پر وړاندې د پوځ د لمڅولو له لارې تحریک انصاف د پاکستان له روان سیاسي بهیر څخه لرې وساتي.

په داسې حال کې چې حکومت مې میاشتې د ۹مې له تاوتریخوالي وروسته د PTI ځپل پیل کړل؛ د پاکستان پخواني لومړي وزیر وویل چې ګوند یې له پوځ سره «کومه شخړه» نه لري.

**تبصره:**

د هند نیمه وچه پر خاندان او شخصیت ولاړ سیاست لري. دا د دې سبب کېږي چې خلک ایډیالوژۍ، پالیسیو، قوانینو، اساسي قانون او نظامونو ته ونه ګوري. د دواړو خواوو، اپوزیسون او واکمنو چارواکو ملاتړي همداسي دي.

عمران خان د ۲۰۲۲م کال په اپریل کې له واکه لرې کړل شو؛  له هغه وخت راهیسې ده او پلویانو ته یې سره کرښه د عمران خان نیول دي. دا په دې معنا ده چې هېڅ شی تر عمران خان مهم نه دي. دا ښیي چې د ده د ګوند پلویان د ګوند ایډیالوژۍ ته نه، بلکې پخپله عمران خان ته وفادار دي.

سره له دې، عمران خان او د هغه د ګوندي پلویانو په خپلو مخالفو ګوندونو کې دا چاره غندله. دوی د کراچۍ مېشت ګوند، متحده قومي خوځښت (MQM) د مشر الطاف حسین پر پلویانو نیوکه کوله چې ګواکي پر ګوند نه، بلکې پر رهبر راټول دي. دغه راز یې د پاکستان د خلکو ګوند کې د بوټو کورنۍ پر واک او په مسلم لیګ کې یې د شریف کورنۍ پر میراثي واکمنۍ نیوکه کوله.

پر خاندان او شخصیت ولاړ سیاست کې د ښه او بد معیار د ګوند د رهبر د خبرو او کړنو له مخې ټاکل کېږي. دغې چارې د پاکستان او ټولې اسلامي نړۍ سیاست ته سخت زیان اړولی. همدا سبب دی چې د خلکو او اسلام

د ګټو خوندي کولو پر ځای، سیاست د ګوندونو د رهبرانو د شخصي ګټو خوندي کولو لپاره استثمار شوی. دغه ډول سیاست د اسلام د هر اړخیزه پلي کولو، د کشمیر او فلسطین آزادی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شرف ساتلو او اقتصادي ودې مخه نیولې.

مسلمانان یوازې یو رهبر او یوه الګو لري او هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم دی. کله چې رسول الله وفات شو، صحابه ویرجن شول. دغه وخت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وویل:

**أَمَّا بَعْدُ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا ﷺ فَإِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ، وَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ يَعْبُدُ اللَّهَ فَإِنَّ اللَّهَ حَيٌّ لاَ يَمُوتُ، قَالَ اللَّهُ: [وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ]**

*ژباړه: «وروسته له دې، څوک چې د محمد صلی الله علیه وسلم عبادت کوي، نو محمد وفات شو او څوک چې د الله سبحانه وتعالی عبادت کوي، هغه سبحانه وتعالی ژوندی دی او هېڅکله نه مري. الله سبحانه و تعالی فرمایي: [محمد یوازې یو پیغمبر دی، چې له هغه مخکې نور پیغمبران هم تېر شوي دي].» (ال عمران:۱۴۴) (بخاري).*

بیا مسلمانانو خپل هوډ ټینګ کړ او له اسلام او اسلامي دولت، راشده خلافت سره یې خپله ژمنتیا تایید کړه.

د پاکستان مسلمانان باید خانداني او شخصیتي سیاست پرېږدي. دوی باید اسلامي سیاست ته مخه کړي او د رسول الله پر منهج راشده خلافت د تاسیس لپاره کار وکړي چې اسلام پلی کوي. حزب التحریر د اساسي قانون مسوده او د کتابونو ټولګه چمتو کړې چې د سیاست، قانون او اساسی قانون په اړه د شرعي احکامو تفصیل پکې دی. نو پرېږدئ چې مسلمانان له خانداني او شخصیتي سېکولر سیاستونو څخه لري شي. پرېږدئ چې له حزب التحریر سره کار وکړي چې بیا هغه څه پلي کړي چې الله سبحانه و تعالی نازل کړي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**انجینر شهزاد شیخ**

**د حزب التحریر - ولایه پاکستان د ویاند مرستیال**